PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسی

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.
(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو هریره (رضی الله عنه) روایت است که رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: ((سوگند به ذاتی که جانم در دست اوست، کسی از شما نمی تواند مؤمن باشد، تا زمانی که من (پیامبر (صلی الله علیه وسلم)) نزد او از پدر و فرزندش محبوب تر نباشم.))
(صحیح البخاری)

شهادت پنځم کال، ۳۰ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۹ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د لیندی ۱۲ مه د۱۴۳۵ هـ ق د محرم ۲۹ مه د۲۰۱۳ م د دسمبر ۳ مه

د مشرانو جرګې رییس د امنیتي سند له لاسلیک سره مخالفت وکړ

"زه شخصاً د دې سند د لاسلیک پلوي نه یم، خو د مشرانو جرګې د نورو غړو په اړه څه نه شم ویلی."
(مسلمیار)

کابل، رسنۍ:
د مشرانو جرګې رییس د افغانستان او امریکا ترمنځ له امنیتي تړون سره خپل مخالفت اعلان کړ.
د مشرانو جرګې رییس فضل الهادي مسلمیار په کابل کې یوې خبرې غونډې ته وویل، چې نه یواځې د امنیتي تړون له لاسلیک سره مخالف دی، بلکې له هغه کس سره هم مخالف دی، چې له اسلامي هېواد سعودي عربستان څخه افغانستان ته له تړپک سره راشي.
هغه زیاته کړه: "شخصا د دې سند د لاسلیک پلوی نه یم، خو د مشرانو جرګې د نورو غړو په اړه څه نه شم ویلی."
مسلمیار د امریکا او افغانستان له حکومتونو وغوښتل، چې خپلو ژمنو ته دې ژمن پاتې شي او دغه سند دې په ګونګ حالت کې نه پرېږدي.
خو ده په ډاګه کړه، چې له امریکا سره د ستراتیژیک تړون له درلودو سره مخالف نه دی، بلکې غواړي، چې افغانستان له ټولې نړۍ سره ښې اړیکې ولري.
مشورتي لویې جرګې تېره اونۍ امنیتي سند له یو لړ وړاندیزونو سره تایید کړ او له ولسمشر کرزي یې وغوښتل، چې دا سند په ښېړو یا اوو راتلونکو اونیو کې لاسلیک کړي.
خو ولسمشر کرزي د جرګې په
(۴ مخ)

بعضی مشکلات، شفافیت انتخابات آینده را زیر سوال می برد

کابل، رسانه ها:
تنظیم کننده گان انتخابات ریاست جمهوری افغانستان می گویند که امنیت ضعیف، کمبود ناظران و مشکلات در بخش مالی توانایی آنها را در جهت تامین شفافیت انتخابات سال آینده زیر سوال می برد.
در گزارش خبرگزاری رویترز، گفته شده است که اگر این بار نیز در انتخابات افغانستان مثل انتخابات گذشته تقلب شود، پیش از خروج نیرو های بین المللی از افغانستان در پایان سال آینده، به تلاش های امریکا و متحدان این کشور در جهت تامین دیموکراسی در افغانستان آسیب خواهد رسید.
نور محمد نور سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان می گوید که بخاطر مسایل تخنیکی، اساس انتخابات به شیوهء درست در نظر گرفته نشده است. ...
(ص ۴)

د کندز ولایت د حزب اسلامي د غړو او ارکانو د همغږۍ شورا غونډه

د نیشنلیزم د فاسدی مفکورې په خلاف له ژبې او قلم څخه کار واخلئ او مسلمانان ټول په یو منظم صف کې ودروئ. (واحدیار)

مسلمان ځوانان دې د اسلام او هېواد د دښمنانو د زهرجنو تبلیغاتو تاثیر لاندې رانشي او هر یو د هېواد سالمیت، پرمختګ او د ټولو قومونو د یووالی لپاره دې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي. (عمرخیل)

راپور: عبداللطیف "عاطف"
د لیندی د میاشتې په لومړۍ نېټه د جمعې په ورځ د کندز ولایت په پامیر هوټل کې د حزب اسلامي د غړو او ارکانو د همغږۍ شورا دائره شوه، ...
(۴ مخ)

فاینشتاین:

تمام فیصله های رییس جمهور کرزی ناگهانی اند

امریکا، رسانه ها:
رییس کمیته استخبارات سنای امریکا دیان فاینشتاین روز گذشته در یک مصاحبه تلویزیونی، رییس جمهور کرزی را برای به تعویق انداختن امضای توافقنامه امنیتی میان کابل و واشنگتن شدیداً مورد انتقاد قرار داد.
این سناتور دیموکرات در مصاحبه خود با تلویزیون "سی ان ان" گفته است که تمام فیصله های رییس جمهور کرزی ناگهانی اند:
"کرزی تا حد زیاد از فرط عصبانیت در مورد چیز های که شاید اصلاً وجود نداشته باشند، قربانی فکریست که برای یک لحظه در ذهن اش به وجود میاید."
(ص ۴)

افغانستان او پاکستان د طالبانو لپاره د دفتر په پرانستلو موافقه وکړه

پاکستان، رسنۍ:
افغانستان او پاکستان موافقه کړې چې ډېر ژر هڅې پیل کړي چې د طالبانو دفتر په یوه درېیمګړي هېواد کې پرانستل شي.
یوه پاکستاني چارواکي، چې له نوازشریف سره د کابل په وروستي سفر کې ملګری و، وویل: ښاغلیو کرزي او شریف په کابل کې موافقه وکړه چې د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو او د سولې د بهیر د چټکولو لپاره یو نوی میکانیزم جوړ کړي.
دغه پاکستاني چارواکي، د پاکستان تریبیون ورځپاڼې ته همدارنګه وویلې، دواړه خواوې به ژر په سعودي عربستان یا ترکیه کې طالبانو ته د سیاسي دفتر د پرانستلو پر لارو چارو غور پیل کړي.
دغه پاکستاني چارواکي، چې نه یې غوښتل نوم یې څرګند شي، زیاته کړه: "نوازشریف د پاکستان په خاوره کې د طالبانو د رسمي دفتر د پرانستلو په باب د افغان ولسمشر حامد کرزي...
(۴ مخ)

صدها محصل پوهنتون ننگرهار دست به مظاهره زدند و شاهراه ننگرهار – کابل را مسدود کردند

کابل، رسانه ها:
صدها محصل پوهنتون ننگرهار بروز دوشنبه (۱۱ قوس) دست به مظاهره زدند و شاهراه ننگرهار-کابل را به روی ترافیک مسدود کردند.
خبرنگار رادیو آزادی از محل گزارش می دهد که ...
(ص ۴)

امضای قرارداد سه جانبهٔ اقتصادی با ایران و هند زمینه ساز تسهیلات بیشتر برای تجارت افغانستان

فدا محمد فایض

اخیراً قرار است یک توافقنامهٔ همکاری اقتصادی بین ایران، هند و افغانستان امضا شود. براساس این توافقنامه افغانستان و هند هر دو خواهند توانست از بندر تجارتی چاه بهار که در جنوب شرق ایران قرار دارد استفاده خواهند کرد. هند متعهد شده است که مبلغ دو صد ملیون دالر بالای این بندر بمصرف برساند. چون پاکستان همیشه مانع بر سر راه تجارت زمینی بین هند و افغانستان و اکنون بین هند علاوه با افغانستان با آسیای میانه نیز شده است، هند با آسانی خواهد توانست هم با افغانستان و هم با آسیای میانه روابط تجارتی قایم نماید. افغانستان هم علاوه بر آنکه خواهد توانست از بندر کراچی استفاده کند ولی یک راه بدیل هم خواهد داشت که خواهد توانست در پهلوی کراچی از بندر چاه بهار نیز استفاده کند. این امر باعث خواهد شد که پاکستان برای تجار افغان مشکلات ایجاد نکنند! زیرا تجار افغانی نسبت ایجاد مشکلات تجاری بر سر راه تجار افغان از سوی پاکستان سالانه به ملیونها دالر خسارت می بینند، امید است افغانستان خیلی زود از راه آسیای میانه و ترکیه با اروپا نیز وصل شود.
(ص ۲)

سرمقاله — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ولسمشر د وروستي دریځ په باب اندېښنې او امیدونه

تېره مشورتي جرګه (۱۳۹۲ / ۹ / ۳ - ۱۳۹۲ / ۸ / ۳۰) جوړه شوه او تېره شوه، دا چې څه ډول جوړه شوه، څه ډول کسان ورته راوغوښتل شول، پر امنیتي تړون د بحث جریان څه ډول و، او د یو شمېر ګډونوالو مثبت نظریات ولې په کې منعکس نه شول، مشورتي لويې جرګې ولې د خپل صلاحیت حدود ونه پېژندل، دا هغه حقایق وو چې ټول بهر ته راووتل:

نهان کی ماند آن رازی کازو سازند محفلها

خو ددغو ټولو جریانو پر وړاندې د ولسمشر غبرګون ډېر مهم او د مکث وړ و. ولسمشر په ډېر صراحت سره وویل تر هغې چې سوله تضمین نه شي، د خلکو پر کورونو د شپې بریدونه قطع نه شي او له لاسوهنو خوندي انتخابات پر خپل وخت دایر نه شي دې دغه تړون نه شي لاسلیکولای. د ولسمشر دې دریځ د جرګې د مشرتابه او نورو هغو کسانو او ده ترمنځ چې په پټو سترګو له امریکا سره د امنیتي قرارداد د لاسلیک پلویان وو، اختلاف پیدا کړ.

امریکا له مختلفو لارو پر ولسمشر حامد کرزي خپل فشار زیات کړ، رالیږلې امنیتي سلاکاره یې «سوزن رایس» تش لاس واشنګتن ته ستنه شوه، کله پر افغانستان د مرستو د بندولو ګواښونه کېږي، کله د ټولو قواو د ایستلو تهدیدونه تکرارېږي، کله د ایسف پر خوله او کله پر نورو متعددو خولو همدا یوه خبره تکرارېږي چې افغان ولسمشر دې ژر تر ژره له امریکا سره امنیتي قرارداد لاسلیک کړي؛ خو هېڅوک هم دې پوښتنې ته د ځواب پیدا کولو هڅه نه کوي چې دا قرارداد باید د کومو امتیازاتو په بدل کې لاسلیک شي؛ ځکه امریکا پخپله په وار وار پر دې اعتراف کړی چې القاعده ختمه ده او له طالب سره جنګ نه لري؛ نو دا بهانه خو ختمه شوه چې دلته په اصطلاح له تروریزم سره جګړه روانه ده؛ نو له دې وراخوا چې امریکا په افغانستان کې د پاتې کېدلو هوډ لري، طبیعي خبره ده چې دلته په سیمه کې خپلې ستراتیژیکې ګټې لري او دا اوس څه پټه خبره هم نه ده او نه یې امریکا باید د پټولو هڅه کوي؛ نو امریکا چې په دې ټوله سیمه کې خپل اهداف او خپلې ګټې لټوي، افغانستان ته څه ورکوي؟ که څه هم چې پر افغان ولسمشر د امریکا او ناټو فشار چې باید امنیتي قرارداد په پټو سترګو لاسلیک کړي او خپل ارزښتونه، خپلې هېوادنۍ ګټې او خپل دیني، ملي او تاریخي مسؤولیت په پام کې ونه نیسي هېڅ مشروعیت نه لري؛ خو ډېر تعجب او تأسف د هغو کسانو په اړه په کار دی چې د مسلمانۍ ادعاوې هم کوي او د افغانیت هم، خو بیا د بهرنیو غوښتنو پر وړاندې ورته خپلې هېوادنۍ غوښتنې هېڅ ارزښت نه لري.

که څه هم ولسمشر د لويې جرګې تر ختمېدو وروسته له ازادۍ راډیو سره په یوه مفصله مرکه کې بیا بیا د خپل دریځ پخلی وکړ، همدارنګه یې وياند بیا بیا د ولسمشر د دریځ تأیید وکړ؛ خو بیا هم له ولس سره په دې اړه هم اندېښنې موجودې دي او هم امیدونه، کله چې ولس بیا بیا پر خپل وروستي ملي دریځ د ولسمشر ټینګار کوري؛ نو هیله من شي او کله چې د امریکا، ناټو او په هغوی پورې د تړلو افرادو او کړیو بیا بیا فشار او ټینګار ګوري؛ نو دا اندېښنه ورته پیدا شي چې هسې نه ولسمشر ددغو فشارونو پر وړاندې د خپل روا مقاومت ډال پر ځمکه کېښېږدي.

زموږ مشوره همدا ده چې باید ولسمشر په هر حال خپل دیني ارزښتونه، ملي مصالح او هېوادنۍ ګټې په پام کې ونیسي که له دغومره مقاومت سره سره له خپل معقول دریځ نه په شا کېږي، نو د خدای (جل جلاله)، ملت او تاریخ پر وړاندې به یې د مسؤولیت بار لاپسې درنېږي او ولس به هم وانګیري چې دا هر څه یوه غولوونکې ډرامه وه.

امضای قرارداد سه جانبهٔ اقتصادی با ایران و هند

زمینه ساز تسهیلات بیشتر برای تجارت افغانستان

فدا محمد فایض

افغانستان یک کشور تاریخی است که سرحدات آن با گذشت زمان بنابر حدوث وقایع مختلف دستخوش تغییر شده است. گرچه در حقیقت اساس یک افغانستان معاصر بدست میرویس خان هوتک (میرویس نیکه) گذاشته شد؛ ولی بنابر دلایل متعددی بنیانگذار افغانستان معاصر احمدشاه ابدالی (احمدشاه بابا) شناخته شد. احمدشاه ابدالی بسال ۱۷۴۷ از سوی یک لویه جرگهٔ متشکل از نمایندگان تمام اقوام ساکن افغانستان به پادشاهی برگزیده شد. گرچه در زمان گزینش او بحیث پادشاه عمر بیشتر از ۲۵ سال نداشت ولی بنابر درایت و تجربه یی که داشت اساس یک امپراتوری بزرگ افغانی را گذاشت.

احمدشاه بابای ابدالی از افغانستان یک تعریف مشخص داشت. او برای افغانستان حدود اربعه یی تعیین کرده بود که از شمال با دریای آمو، از جنوب با بحیرهٔ عرب، از شرق با اباسیند و از غرب با مشهد چسپیده بود، فتوحاتی را هم که او فراتر ازین حدود اربعه کرد، در پهلوی عوامل متعدد دیگر یک علت خاص هم داشت و آن حفظ سرحدات کشور از دستبرد دشمن بود. از همین جهت او توانست تا پایان عمر قلمرو خود را از هر نوع دستبرد دشمن مصون نگه دارد؛ هکذا پسر او تیمورشاه درانی هم توانست قلمرو به ارث برده از پدر فاتح خود را حفظ کند؛ اما از زمان شاه زمان که واقعاً بشهادت مؤرخین ما، شخصیت بزرگی بود و انگلیسها او را ناپلیون شرق میدانستند، مخالفتهای برادران ناعاقبت اندیش آله دست دشمنان از یکسو انگلیس و از سوی دیگر ایران قرار گرفتند و سرانجام آن شاه بزرگوار از سلطنت خلع و بینایی هر دو چشم خود را هم از دست داد و کشور بدست شاه محمود برادرش قرار گرفت.

بعد از آن که سلطنت از سدوزاییها به بارکزاییها انتقال یافت، دشمنی بین دو خانواده نیز که پیشینه یی از کشته شدن سردار پاینده محمدخان از سوی شاه زمان به علت دست داشتن در یک کودتا داشت اوج گرفت و همین دشمنی دو خانواده بالاخره شاه شجاع برادر سکهٔ شاه زمان را مستقیماً بدامن انگلیس انداخت. بقول علامه سید جمال الدین افغان حینی که یک هیأت روسی بکابل آمد تا دوست محمدخان را تشویق کند که قراردادی با ایران برخلاف انگلیس امضا کند، انگلیس، شاه شجاع فراری را در آغوش گرفت و برای بار اول در سال ۱۸۳۹ از راه کندهار بالای افغانستان حمله کرد؛ دوست محمدخان به بخارا فراری شد و شاه شجاع بر تخت سلطنت جلوس نمود.

از همان تاریخ ملت افغانستان در برابر تجاوزات انگلیس از خود مقاومت، شهامت و مردانگی شدیدی نشان داد و انگلیس هم تا به امروز دست از دشمنی ملت افغان نبرداشت. تحمیل معاهدات از شاه شجاع گرفته تا امیر عبدالرحمن خان نشانهٔ بزرگ دشمنی انگلیس با ملت افغان بود. با جدا کردن بلوچستان از افغانستان و بعداً تحمیل خط دیورند بالای امیر عبدالرحمن خان (۱۲ نوامبر ۱۸۹۳) آخرین ضربه بر پیکر افغانستان بود، که یک بخش عمدهٔ خاک افغانستان را تحت کنترول خود درآورد و افغانستان را محاط به خشکه نمود.

در سال ۱۹۴۷ که انگلیس نخست در جنگ اول جهانی (۱۸۱۸ - ۱۸۱۴) تضعیف شد و باز در جنگ دوم جهانی (۱۸۴۵ - ۱۸۳۹) بیشتر تضعیف گردید و در عین زمان مبارزات آزادیخواهانه بین ملت هند نیز در برابر انگلیس ادامه داشت، انگلیس تصمیم به بیرون شدن از هند گرفت ولی یکی اینکه هند را تجزیه کرد و کشور جدیدی بنام پاکستان بوجود آورد که تشکیل پاکستان هم از خود فلسفه یی داشت و آن جلوگیری از پیشروی احتمالی شوروی بسوی جنوب یا بحر هند بود و دوم آنکه با لاینحل ماندن مسأله کشمیر و خط دیورند یک انگیزهٔ دشمنی و بی اعتمادی دائمی هم بین هند و پاکستان و هم بین افغانستان و پاکستان باقی گذاشت.

افغانستان در آن زمان یگانه راه ترانزیتیی که داشت راه کراچی بود، متأسفانه حکومات پاکستان در طول این مدت نسبت لاینحل ماندن موضوع خط دیورند همیشه از یک وسیلهٔ فشار بالای افغانستان کار گرفت؛ زیرا بمباردمان مغلگی مربوط خوست از سوی طیارات پاکستان در ۱۹۴۹، ۲۲شهید و تعدادی مجروحین برجا گذاشت که در عکس العمل دولت افغانستان از طریق شورای ملی خط دیورند را ملغی قرارداد و این دو حادثه باعث بی اعتمادی بیشتر بین دو کشور گردید. در زمان ریاست جمهوری مارشال ایوب خان، پاکستان راه ترانزیتی کراچی را بر روی افغانستان کاملاً بست. این امر افغانستان را در یک مضیقهٔ شدید قرار داد که بالآخره به اشارهٔ امریکا با پا درمیانی رضاشاه پهلوی شاه ایران این مسأله حل گردید، هیأت افغانی تحت ریاست سید قاسم رشتیا و هیأت پاکستانی تحت ریاست ذوالفقار علی بوتو وزرای کابینه های دو کشور به ایران رفتند و مشکل مرفوع گردید؛ اما با آن هم راه ترانزیتی کراچی برای افغانستان کمتر از زخم ناسور نیست، با آنکه در سال ۱۹۶۵ یک پیمان تجارتی بین افغانستان و پاکستان امضا شد و در زمان ریاست حامد کرزی این پیمان با شرایط جدید تجدید گردید؛ ولی با آن هم پاکستان هر گاهی که خواسته است از بندر کراچی و راه ترانزیتی موصوف بر علیه افغانستان بحیث ابزار فشار کار گرفته است.

اخیراً قرار است یک توافقنامهٔ همکاری اقتصادی بین ایران، هند و افغانستان امضا شود. براساس این توافقنامه افغانستان و هند هر دو خواهند توانست از بندر تجارتی چاه بهار که در جنوب شرق ایران قرار دارد استفاده خواهند کرد. هند متعهد شده است که مبلغ دو صد میلیون دالر بالای این بندر بمصرف برساند. چون پاکستان همیشه مانع بر سر راه تجارت زمینی بین هند و افغانستان و اکنون بین هند علاوه با افغانستان با آسیای میانه نیز شده است، هند با آسانی خواهد توانست هم با افغانستان و هم با آسیای میانه روابط تجارتی قایم نماید. افغانستان هم علاوه بر آنکه خواهد توانست از بندر کراچی استفاده کند ولی یک راه بدیل هم خواهد داشت که خواهد توانست در پهلوی کراچی از بندر چاه بهار نیز استفاده کند. این امر باعث خواهد شد که پاکستان برای تجار افغان مشکلات ایجاد نکند؛ زیرا تجار افغانی نسبت ایجاد مشکلات تجاری بر سر راه تجار افغان از سوی پاکستان سالانه به میلیونها دالر خسارت می بینند، امید است افغانستان خیلی زود از راه آسیای میانه و ترکیه با اروپا نیز وصل شود.

د اسیا زړه دې صحیح او سلامت پرېښودی شي

محمد خلیل



افغانستان ته د نوازشریف سفر او له افغان ولسمشر کرزي سره له لیدنې کتنې وروسته دواړو چارواکو پخپلو مطبوعاتي بیانیو کې د تېر په څېر یو ځل بیا په افغانستان کې د سولې او امنیت د ټینګښت په اړه له داده ډکې خبرې وکړی. د پاکستان صدراعظم په ډېر قوت سره وویل چې هېواد یې حاضر دی څو په افغانستان کې د سولې او پخلاینې په بهیر کې له افغانانو سره مرسته وکړي. هغه وویل څنګه چې علامه اقبال افغانستان ته د آسیا زړه ویلی وو، زه یې هم د آسیا زړه بولم؛ نو څکه د افغانستان امنیت او ثبات د سیمې ثبات لپاره مهم گڼم.

که څه هم د نوازشریف دغه څرګندونې د افغانانو له گرم استقبال سره مخامخې شوي خو تر هغه وربانديې بې باوره دي چې په عملي بڼه یې اثرات نه وي ښکاره شوي.

د پاکستان پخواني پوځي ولسمشر جنرال مشرف او آصف زرداري هم په افغانستان، پاکستان او نورو هېوادو کې له ولسمشر کرزي سره په کتنه کې له نواز شریف نه زیاتې ژمنې او غوړې وعدې کړی وې مګر د عمل په ډګر کې د افغانستان د سولې او امنیت په ټینګښت کې یې کومه عملي مظاهره ونکړه. پدې کار سره نه یواځې دا چې د افغانستان امنیت او سولې ته تاوان ورساوه؛ بلکې د خپل هېواد امنیت او ثبات یې هم له جدي گواښ سره مخامخ کړ چې پاکستاني ولس یې تر پوزې راوستي او له دې حالت نه ژر تر ژره د وتلو غوښتنه کوي.

که پاکستان چارواکي د پخوا په څېر په افغانستان کې د سولې او امنیت په راوستلو کې خپل مسؤولیت ادا نه کړي او پخپله پالیسی له نوي سره کره کتنه ونکړي نو لیرې نه ده چې ډېر ژر به پاکستان هم د افغانستان په سرنوشت اخته شي، یهود او هنود به چې له اوږدې مودې نه د ترې له نقشې نه د پاکستان د نوم د ختمولو اراده لري برلاسی شي او هر څه به دهغوی په خوښه کې پریوځي. د پاکستان او افغانستان گټه په دې کې ده چې دواړه مسلمان گاونډي هېوادونه د یو بل د استحکام او سلامتیا لپاره پخپلو کې له یو بل سره په بشپړ اخلاص مرسته وکړي. د یو بل نیمګړتیاوې پوره کړي او په گډه د ټولو راپېښو چلنجونو مقابله وکړي. نوازشریف چې د علامه اقبال د شعر په ویلو افغانستان ته د اسیا زړه ویلې دې او ددې امنیت او ثبات یې واقعاً د سیمې ثبات گڼلې نو بیا په افغانستان کې د سولې او امنیت په ټینګولو کې د ګرندي گام اوچتولو ضرورت دی.

پاکستاني چارواکو ته پکار دي چې د آسیا د زړه په غښتلي کولو کې په بشپړ قوت برخه واخلي تر څو پاکستان هم چې د افغانستان نژدې گاونډي او د آسیا په نقشه کې یو مهم هېواد دی غښتلی او له ناامنی څخه په امن کې پاتې شي.

زمکني حقایقو دا ثابته کړه چې داسیا زړه افغانستان چې د تاریخ په اوږدو کې کله هم ناکراره شوی ورسره جوخت آسیا هم د آرامی ساه نه ده اخستې، په ځانګړې ډول گاونډیان یې زیات متضرر شوي دي، په افغانستان کې د جنګ جګړې د بل کړی شوي اور لمبې د شاخوا گاونډیو هېوادو ته غځېدلي او هلته د ولسونو ژوند یې له جدي گواښ سره مخامخ کړی دی؛ نو څکه د سلیم عقل غوښتنه داده چې د گاونډیو هېوادو ترڅنګ د سیمې نور هېوادونه د آسیا زړه افغانستان د لازیات کمزوري کولو پرځای د قوي کولو مصمم عزم وکړي تر څو ددې د سالمیت او استحکام په نتیجه کې گاونډي او د سیمې نور هېوادونه هم د ناامنی او بې ثباتی د راپېښو گواښونو څخه په امن کې پاتې شي، خو د آسیا زړه په غښتلي کولو کې د پاکستان او ایران مسؤولیت د سیمې له نورو هېوادو څخه څکه زیات دی چې دوی د افغانستان په ښه او بد کې له نورو زیات دخیل دي. ښه به دا وي چې گاونډیان د افغانستان د سولې امنیت او ثبات لپاره له بل هر چا زیات کار وکړي یو بل ته د وروری ټینګ لاسونه ورکړي او د یو بل د استحکام او پیاوړتیا لپاره کډ دریغ خپل کړي. د گاونډیانو او د سیمې نورو هېوادونو ثبات او استحکام به هله یقیني شي چې په گډه د آسیا د زړه د غښتلي کولو لپاره عملي گامونه پورته شي نه دا چې د پخوا په څېر په تشو وعدو او ژمنو بسنه وشي. د افغانانو هیله داده چې د پاکستان هېواد دی د افغانستان نژدې گاونډي او د مسلمان ورور په حیث د افغانستان د لانجې په ختمولو او دلته د امنیت او سولې په راوستلو کې پراخه مرسته وکړي چې دا کار پخپله د پاکستان د سلامتیا او استحکام لپاره هم ضروري دی.

په الکترونیکي تذکرو کې د اسلام او افغان لفظ د لیکلو گټې ډېری او تاوان یې صفر دی

عبیدالله صافي

په الکترونیکي تذکرو کې د اسلام او افغان نوم د نه لیکلو په اړه ناندرې رواني دي. د افغانستان مطلق اکثریت وګړي په تذکرو کې د اسلام او افغان نوم په لیکنه ټینګار کوي خو ځینې عناصر ددغو نومونو پر نه لیکلو اصرار کوي، خو پوښتنه داده چې په نه لیکلو کې کومه گټه ده او په لیکلو کې یې کوم تاوان دی؟! افغانان چې د حضرت عثمان (رضی الله عنه) د خلافت له زمانې نه د اسلام پر دین مشرف شوي دي په خپل اسلام نه یوازې دا چې ویاړي، بلکې د خپلو وینو په بیه دفاع یې هم کړی چې د افغانانو د تاریخ هره پاڼه وربانديې گواه ده، همداراز د افغانستان ټول وګړي افغانان دي او د افغانیت له نومه؛ نه څوک انکار کولې شي او نه یې هم څوک په نورو هېواد کې له افغان پرته په بل نوم یې پیژني. کله چې د افغانستان د مسلمان ولس وګړي مسلمانان هم دي او افغانان هم نو بیا په تذکرو کې ددغو دواړو نومونو په لیکلو کې کوم شرعي ممانعت مخې ته راتلی شي؟ البته په تذکرو کې ددغو دواړو نومونو د نه لیکلو په اړه د افغانستان مسلمان ولس په زړونو کې گڼې پوښتنې او اندېښنې سر اوچتوي چې یوه اندېښنه دا ښودل کېږي چې ددغه کار په ترسره کولو سره د افغانانو اصل هویت چې اسلام او افغانیت دی له منځه وړل کېږي او په دې توګه دښمنانو ته فرصت ورکول کېږي چې په کراره کراره افغانان د دین او افغانیت له نوم نه خلاص کړي، قومي، ژبني او نورو تعصبونو ته وده ورکړي او په دې توګه د افغانستان د تجزیې شوم پلان عملي کړي.

که امریکایي، فرانسوي، ایتالیایي، ایراني او د نورو هېوادو وګړي په امریکایي توب او فرانسوي توب فخر کوي او په همدغو نومونو دهغوی پیژندګلوي کېږي نو بیا په تذکره کې د اسلام او افغان نوم په لیکلو کې څه مشکل دی؟ افغان یو داسې جامع کلمه ده چې اطلاق یې د افغانستان په هر وګړي کېږي، د افغانستان هر وګړی لومړی افغان بیا ورپسې پښتون، تاجک، ازبک، هزاره، بلوڅ، ایماق، پشه یي او نورستاني دی.

د افغان کلمه د ونې د ډډ په څېر دی او پکې اوسېدونکي دهغه لوی او واړه شاخونه دي. که په تذکرو کې د افغان نوم لرې کړی شي نو بیا د افغانستان دغه قومونه به په نورو هېوادو کې پر کومو نومونو یادېږي؟ ضروري خبره ده چې هر څوک به د خپل تعارف لپاره لومړی د افغان نوم اخلي او ورپسې به بیا د قوم او ژبې خبره کوي، د مثال په توګه که د افغانستان له کوم وګړي نه په هندوستان کې څوک دا پوښتنه وکړي چې ته څوک یې؟ نو هغه به د جامع پیژندګلوي لپاره لومړی د افغان لفظ استعمالوي، نه د کوم قوم نوم. که فعلي حساسو شرایطو ته ځیر شو نو په تذکرو کې د اسلام او افغان نوم په لیکلو کې گټې ډېری او تاوان یې بالکل نشته، مګر برعکس په نه لیکلو کې تاوان یې ډېر او گټه یې صفر دی. ایا دا به لیونتوب نه وي چې په لوی لاس خپل ولس او هېواد د تاوانونو ځپو ته وغورځوو او دښمنانو ته د تخریب لاره نوره هم پراخه کړو؟! ښه به دا وي چې د اسلام او افغان نومونه په الکترونیکي تذکرو کې ښه څرګند ولیکل شي څکه چې دا د افغانستان د ټولو وګړو بشپړ هویت او یووالې تضمینوي خو نه لیکل یې له تاوانونو پرته بله هېڅ گټه نه لري.

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان سراسري ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

د مشرانو جرګې رییس د امنیتي ...

وروستي ورځ اعلان وکړ، چې امریکا دې د ړیو ټاکنو ترسره کېدو، د خلکو پر کوروټو نه ننوتلو او د امنیت راوستلو ترځنګ له وسله والو مخالفینو سره د خبرو زمینې برابرولو ضمانت ورکړي یا به دغه تړون لاسلیک کړي او یا به یې تر ټاکنو وروسته نوی حکومت لاسلیک کړي.

امریکا ګوابنه کړې، که چېرې دغه سند په راتلونکو پنځو اونیو کې لاسلیک نه شي، نو دوی به له افغانستان ځخه ووځي.

د مشرانو جرګې رییس د خبرې غونډې پر مهال په هره برخه کې د افغان پوځي ځواکونو د پیاوړتیا هیله څرګنده کړه او زیاته یې کړه، هیله ده چې افغانان په راتلونکي کې وکولی شي، چې نظام په لاس کې واخلي، نه یواځې خپل هیواد ته امنیت راولي، بلکې له نورو هیوادونو سره هم مرسته وکړي.

ده وویل:

چې څه موده وړاندې د کونړ په سرحدي سیمو د پاکستان بریدونو ټول خلک اندېښمن کړل، د دې اندېښنو د ورکولو لپاره باید له امریکا سره واضح خبرې وشي، څو په راتلونکي کې هر څه روښانه شي او وروسته به یا ملي شورا تصمیم ونیسي.

بعضی مشکلات، شفافیت انتخابات ...

آقای نور در ادامه افزوده است: "به تدابیری نیاز دارند تا پروسه، انتخابات به وسیله، ناظران تضمین شود."

بر اساس گزارش رویترز، کشور های غربی نسبت به انتخابات ۲۰۰۹ تعهد پرداخت پول نقد کمتر را به صندوق سازمان ملل متحد که از طریق آن انتخابات آینده، افغانستان تمویل می شود، انجام داده اند.

ارقام سازمان ملل متحد نشان می دهد که این کمک مالی یک سوم حصه، کمک های قبلی است.

سازمان ملل متحد و رییس کمیسیون مستقل انتخابات می گویند، یکی از علت های کاهش بودیجه، انتخابات اینست که وسایل و امکاناتی که در انتخابات گذشته خریداری و آماده شده بودند، دوباره مورد استفاده قرار خواهند گرفت.

به گفته، آنها، علت دیگر اینست که این بار برای ناظران خارجی کمتر نیاز است.

یوسف نورستانی رییس کمیسیون مستقل انتخابات گفته است، ناظران خارجی از طریق بودیجه، انتخابات معاش خوب به دست می آوردند.

اما به گفته، آقای نورستانی، این بار شمار بسیار محدود ناظران خارجی وظیفه اجرا خواهند کرد و همه چیز توسط افغان ها اجرا خواهد شد.

اما خبر گزاری رویترز می گوید که نشانه های تشویق کننده وجود ندارند.

بر اساس معلومات منابع سازمان ملل متحد و افغانستان، فساد اداری در میان کارمندان انتخابات زیاد است.

به گفته، این منابع، آنهایی که می خواهند مستقل باشند از این ترس دارند که اگر در جهت جلوگیری از فساد تلاش کنند، شاید جان های شان با خطر مواجه شود.

این در حالیست که شماری از سناتوران افغان بخاطر آنچه نامناسب بودن شرایط اقلیمی خوانده اند، خواهان تاخیر در برگزاری انتخابات ۱۳۹۳ شده اند.

تمام فیصلهٔ های رییس جمهور ...

رییس کمیته استخبارات سنای امریکا دیان فاینشتاین در مورد به قدرت رسیدن احتمالی طالبان نیز هشدار داده گفت:

"گزارش های وجود دارند که طالبان در موقعیت برگشت دوباره قرار دارند. گزارش های نیز وجود دارند که نیرو های افغان احتمالاً نخواهند توانست مصارف خود را تمویل کنند و بنابر این امکان آن موجود است که شصت درصد خاک این کشور بدست طالبان بیافتد و این یک نگرانی بزرگ است. پس موضوع این توافقنامه مطرح می شود و چنانچه کرزی به دلایل خاص عصبانی است، نمی خواهد این توافقنامه را امضاء کند."

مایک راجرز عضو مجلس نمایندگان امریکا که در این بحث تلویزیونی سی ان ان خانم فاینشتاین را همراهی می کرد نیز در مورد به تعویق افتادن توافقنامه امنیتی و دفاعی میان کابل و واشنگتن ابراز نگرانی کرد.

آقای راجرز در سخنان اش به دستاورد های ده ساله در عرصه حقوق زنان اشاره کرده گفت، امریکا باید به تعهدات اش با زنان افغان عمل کند:

"ما تعهد کرده بودیم که باقی می مانیم اما اکنون بستره های خود را بسته و روان استیم. مه به شما می گویم که اولین کسی که آسیب خواهد دید او زن افغان است. طالبان قبلاً پنج صد مکتب را بستند که بیشتر آنها مکاتب دخترانه بود."

مقام های امریکایی خواهان امضای توافقنامه امنیتی میان کابل و واشنگتن تا ختم سال میلادی جاری اند.

آنها هشدار داده اند در صورت که این توافقنامه هر چه زودتر به امضاء نرسد تمام نیرو های خارجی از افغانستان بیرون خواهند شد.

قبل از این جیمز دابنز نماینده خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان، گفته بود در صورت که این توافقنامه امضاء نگردد در آستانه انتخابات ریاست جمهوری چنان بی ثباتی به وجود بیاید که اساس آن جنگ های دهه نود افغانستان خواهد بود.

مقام های دیگر بشمول جنرال جوزف دنفورد قوماندان عمومی قوای امریکا و ناتو در افغانستان، نیز در مورد به امضاء نرسیدن توافقنامه امنیتی و دفاعی میان کابل و واشنگتن ابراز نگرانی کرده است.

افغانستان او پاکستان د طالبانو ...

غوښته ونه منله، او هغه ته یې وړاندیز وکړ چې د طالبانو لپاره دې سیاسي دفتر په ترکیه یا قطر کې جوړ شي."

نوازشریف همداراز وویل چې پاکستان به د افغانستان د سولې په بهیر کې د یوه مشر په حیث نه بلکې د یوه مرستندوی هیواد رول ولوبوي او که طالبانو ته دا دفتر په پاکستان کې جوړ شي د پاکستان د اصولي دریځونو خلاف کار به شوی وي.

د پاکستان ټریبیون ورځپاڼې له نوازشریف سره د کابل د شنبې د ورځې په سفر کې د ملګري پاکستاني سیاستوال له قوله همداراز ویلي چې په راتلونکو څو اونیو کې ډېره هیله شته چې د افغان طالبانو د سیاسي دفتر د پرانستلو په برخه کې لوی پرمختګ وشي.

طالبانو د روان میلادي کال په جون کې د قطر په مرکز دوحې کې دفتر پرانست خو څلورویشت ساعته وروسته د افغانستان د ولسمشر د اعتراض له کبله وتړل شو.

صدها محصل پوهنتون ننگرهار ...

این محصلین می خواهند که کلمه افغان و اسلام در تذکره های الکترونیکی ذکر شوند.

پیش از این، تظاهرات مشابه در شهر کابل نیز راه اندازی شده بود.

مشرانو جرگه افغانستان هفته گذشته قانون ثبت احوال نفوس را که مساله تذکره های الکترونیکی نیز در آن گنجانیده شده است تصویب کرد.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

"ولسمشر کرزي د پلمې په لټه کې دی"

نیویارک ټایمز ورځپاڼې تر دې سرلیک لاندې چې "ولسمشر کرزی د پلمې په لټه کې دی" د کابل او واشنګټن ترمنځ د امنیتي او دفاعي تړون پر سر د اختلافاتو په باب یو مطلب خپور کړی دی. ورځپاڼې په هلمند او کندهار ولایتونو کې په دې ورستیو کې د ترېوالو ځواکونو په حملو کې د ملکي مړګ ژوبلې په اړه د ولسمشر کرزي عکس العمل ته په کتنې سره لیکلي:

اکثره افغانان چې له امریکا سره د امنیتي او دفاعي تړون د لاسلیک د ځنډولو په اړه له ولسمشر کرزی شکایت لري؛ د ترېوالو ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي تلفاتو په اړه د نوموړي پر عکس العمل انتقاد کوي؛ وايي چې، ولسمشر کرزی پلمې لټوي.

د نیویارک ټایمز په وینا، له بشري حقونو څخه د سرغړونو او ناوړه چلند اصلي پړه پر وسله والو طالبانو اچول کېږي.

ورځپاڼه زیاتوي، له ولسمشر کرزي څخه د ناراحتي لړی په خپله د افغان حکومت په داخلي کړیو کې هم پراخه شوې ده.

نیویارک ټایمز لیکي، د افغان ولسمشر په مشرې د کابینې په وروستي غونډه کې زیاترو وزیرانو له نوموړي وغوښتل چې؛ له متحده ایالاتو سره امنیتي تړون ژر لاسلیک کړي. ورځپاڼې د افغانستان د مالیې د وزیر عمر ذاخیلوال هغه څرګندونې نګل کړې چې؛ د کابینې په وروستي غونډه کې ولسمشر کرزي ته کړې دي.

عمر ذاخیلوال د هغو مالي زیاتونو په اړه د افغانستان جمهور رییس ته معلومات ورکړي چې؛ د امنیتي تړون د ژر نه لاسلیک کېدو له امله افغانستان ورسره مخامخ کېږي.

د ذاخیلوال په خبره د افغانستان د پرمختګ هغه برخه د هېواد امنیتي وضعیت پورې تړلې ده. د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په وینا د مالیې وزیر عمر ذاخیلوال نه یوازې ولسمشر کرزي ته نږدې دی؛ بلکې امریکایان هم له نوموړي سره ښې اړیکې لري.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې هم د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي تړون او له افغانستان څخه د ټولو امریکایي ځواکونو د وتلو د احتمال په اړه مقاله خپره کړې ده:

ورځپاڼه لیکي، امریکایي چارواکو له ۲۰۱۴م کال وروسته له افغانستانه د ټولو ځواکونو د وتلو مساله د لومړي ځل لپاره د روان کال په جنورۍ میاشت کې مطرح کړه.

هغه مهال دې مسالې یعنې د صفر انتخاب ته د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي تړون پرسرپه خبرو اترو کې د چنې وهلو په توګه کټل کېدل؛ خو واشنګټن پوسټ وایي، په دې اړه د افغان ولسمشراو امریکایي چارواکو ترمنځ د خبرو په تېبه دربدلو دا مساله کاملا واقعیت ته نژدې کړې ده.

واشنګټن پوسټ د یوشمېر امریکایي چارواکو په حواله وایي چې؛ د اوږدې مودې امنیتي همکاریو د تړون په اړه د اطمینان نشتوالی به د افغانستان لپاره د جمهوري ریاست د انتخاباتو په درشل کې د یوه بالقوه زیان سبب شي. ورځپاڼې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د خاص استازي جیمز ډبنز له خولې لیکلي چې وایي، که دغه تړون لاسلیک نه شي او اندیښنې زیاتې شي، تاسو د راتلونکو انتخاباتو لپاره یوه داسې بې ثباتي رامنځ ته کوئ چې؛ خطر یې د افغانستان د نویمې لسیزې له حالته سرچینه اخلي. د امریکا د دفاع وزارت چارواکو تېره اونۍ ویلي وو؛ چې سپینې ماڼۍ له دې وزارته دې غوښتي چې؛ له افغانستانه دټولو ځواکونو د وتلو پلان ترتیب کړي.

د کابل او واشنګټن ترمنځ لانجه د تیرې جمعې په ورځ وروسته له هغې زیاته شوه چې؛ د امریکا په مشرۍ ایتلافي ځواکونو ومنله چې د افغانستان په جنوب کې په هوایي عملیاتو کې یوماشوم ووژل شو او دوه ښځې ټپیانې شوې.

د کندز ولایت د حزب اسلامي د غړو ...

... د دشت ارچي ولسوالی د ځوانانو مسؤول ښاغلی قاري عبدالودود د قرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت د غونډې پرانسته وکړه. وروسته د کندز ولایتي دفتر مسؤول سید اسدالله سادات د راغلو میلمنو او ګډونوالو ته هرکلی وویل او دهغوی د اداري او فرهنګي زیارونو مننه وکړه او له لوی الله نه د لازیاتو خدمتونو د ترسره کولو د توفیق دعا یې وغوښته.

وروسته بیا ښاغلی معلم صاحب محمد شیر ناصري ستېیج ته راغی او ګډون والو ته په خطاب کې وویل: ټول مسلمانان باید قرآن کریم او نبوي سنت د خپلو ټولو مسایلو د حل یواځینۍ لاره وګرځوي. نوموړي له علمای کرامو نه هیله وکړه چې خپل دعوتي کارونه ګړندي کړي او هر چاته د اسلام د سپېڅلي دین مسایل روښانه کړي.

له کابل څخه ورغلی د رهبری شورا غړی ښاغلی مدیرصاحب سید رحمن واحدیار هم غونډې ته پخپلې وینا کې ارزښتناکې خبرې وکړې او نیشنلیزم یې د اسلام لپاره لوی خطر وباله. نوموړي ګډون وال دېته وهڅول چې د نیشنلیزم د فاسدې مفکورې په خلاف له ژبې او قلم څخه کار واخلي او مسلمانان ټول په یو منظم صف کې ودروي. ښاغلی مدیرصاحب سید رحمن د افغانستان په موجوده حالاتو او د حزب اسلامي پر پالیسۍ هم رڼا واچوله.

وروسته بیا د معلم صاحب محمد شیر ناصري)بچیانو دا د حزب کور دی(تر سرلیک لاندې ترانه واوروله چې د ګډون والو له ګرم استقبال سره مخامخ شو.

بل ویناوال د کندز ولایت د حزب اسلامي د علماو کمیسیون مسؤول ښاغلی قاري شیراحمد و، نوموړي وویل موږ باید اسلام د عمل په ډګر کې پیاده کړو او د خپلو دیني اسلافو او مشرانو پر پلونو پل کېږدو.

یو بل ویناوال د اجرائیه غړی او د امام صاحب د ولسوالی د دفتر معاون و، نوموړي ګډون والو ته وویل:

د حزب اسلامي اصلي مقصد دا دی چې خلک د بنده ګانو له بندګۍ نه خلاص او یواځې د یو خدای بندګۍ ته راولي، یواځې د یو خدای بندګي وکړي او یواځې دهمغه قانون ته غاړه کېږدي.

وروسته د چهاردرې ولسوالی په نمایندګی محترم مولوی صاحب عبدالسمیع خپله جذابه بیانیه واوروله او د افغانستان له ټولو وګړو څخه وغوښتل چې پخپلو کې یو بل ته د اتفاق او ورورګلوي لاسونه ورکړي او د امن او سولې په فضا کې د ژوند تېرولو فضأ برابر کړي.

د کابل له مرکزي دفتر څخه بل ورغلی میلمه ښاغلی ډاکټر سیف الدین عمر خیل و، نوموړي ګډون والو ته پخپل خطاب کې داسې وویل:

زموږ د افغانانو قوت زموږ په یووالی کې دی، هر ډول تعصب چې زموږ ملي یووالی ته خطر پېښوي د اسلام او مسلمانانو له نظره مردود دی، هر څوک چې په هره ژبه تکلم کوي او مسلمان وي هغه زموږ عقیدوي ورور دی، خو د الله جل جلاله په نزد هغه څوک غوره دی چې تقوا ولري. هیله ده چې مسلمان ځوانان د اسلام او هېواد د دښمنانو تر زهرجنو تبلیغاتو لاندې رانشي او هر یو د هېواد سالمیت، پرمختګ او د ټولو قومونو د یووالی لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

د غونډې بل ویناوال محترم مولوی عبدالرحمن نحوي و، چې د قلعه ذال په نمایندګي خبرې وکړې. وروسته د قلعه ذال د ځوانانو مسؤول د ویناوالو د وینا غورچاڼ ګډون والو ته واوروله او غونډه د کندز ولایت د دعوت او تنظیم د دفتر مسؤول محترم قاضي عبدالصمد په دعائیه پای ته ورسېده.